څلورم کتاب

څه تمه باید ولرئ

# زما د پناه غوښتنې غوښتنلیک



# ښه راغلاست!

## دا کېسه د ځلورو ځوانانو په اړه ده - کټ مټ لکه تاسې.

هغوی له یوه اوږده سفر وروسته په خونديي توګه اروپا ته را رسېدلي دي.
ځينې ځوانان بيا په يوازې توګه راغلي دي. ځينې يې له کورنيو سره راغلي دي.
دوی زياتې پوښتنې لري – او له دوی سره د هغو خلکو له خوا مرسته کېږي چېرې چې د دوی د اوسېدو په ځای کې کار کوي.

## دا کېسه له تاسې سره هم مرسته کولای شي!

**تاسې به زده کړئ:**

- د پناه غوښتنې پروسه يعنې څه
- د څه تمه باید ولرئ
- دا ولې مهمه ده چې تاسې له افسرانو سره ګډون ولرئ او ورسره کار وکړئ
- څوک تاسو سره مرسته کولای شي؟
- ستاسې د حقونو په اړه

**تاسې کولای شئ دا کېسه ولولئ:**

- يوازې
- له يوه ملګري سره
- له يوه کس سره چې دلته کار کوي

## فکر پرې وکړه. دا سمه ده چې و يې دروې او وروسته بېرته ورته راشې.

که څه شی درته سخت وي، له چا وغواړه چې درته تشريح يې کړي.
ستا سرپرست، ټولنيز کارکوونکی يا وکيل درسره مرسته کولای شي.

د هغو کسانو لپاره چې تر 18 کلونو کم عمر لري او يوازې راځي، يو سرپرست به ورته وټاکل شي. په ځينو هېوادونو کې، سرپرست ته استازی هم ويل کېږي.


همداراز، په ځينو هېوادونو کې د پناه غوښتنه د نړيوال خونديتوب غوښتنه بلل کېږي.

**په پای کې به ته ومومې:**

- يوه پاڼه له سيمه ييزو معلوماتو سره
- يو تفريحي کوييز
- داسې يو خالي ځای چې خپلې پوښتنې په کښې وليکې او ګټورې اړيکې په کې اضافه کړې


په پای کې، خبر اوسئ چې ټول خدمات چې د استوګنې په مرکزونو کې درته وړاندې کېږي، وړيا دي. که کوم کارکوونکی له تاسې پيسې وغواړي، له يوه باور وړ افسر يا خپل سرپرست سره خبرې وکړه.

# د دې کیسې
## کرکټرونه وپېژنئ



### محمد

زه 17 کلن یم. زه اکثره وخت خوشحاله یم. زه خوښ یم چې خپلو دوستانو او کورنۍ سره هر وخت چې وګړای شم، مرسته وکړم.
زه څو اونۍ مخکې یوازې راغلی یم او د خپل نیکه په لټه کې یم. زه لېواله یم چې کار پیل کړم.



### احمد

زه 15 کلن یم. زه له خپلې مشرې خور جسمین سره راغلی یم، چې له هغه وخت راهیسې زما پالنه کوي چې زموږ مور وفات شوې ده. زه خوښ یم چې له خلکو سره وخت تېر کړم او نوي ملګري پیدا کړم. زه واقعاً غواړم چې ژر تر ژره بېرته ښوونځي ته لاړ شم. اوس مهال، زه دلته سیمه ییزه ژبه زده کوم.



### جسمین

زه 24 کلنه یم. زه یو ځای له خپل ورور، احمد سره راغلی یم، کوم چې تر خپله وسه پورې مې د هغه پالنه کړې ده. مور تازه رارسېدلې یو او هڅه کوو چې له خپل تره سره چې د یو څو وخت لپاره دلته په اروپا کې ژوند کوي، یو ځای شو. له ورزش سره مینه لرم او د فوټبال په لوبه کې ډېر ښه یم.




## ادم

زه 9 کلن یم. زه دلته په خپله راغلی یم. د اوس لپاره ما تصمیم نیولی چې خبرې و نه کړم. دلته تر را رسېدو وړاندې ما ډېرې بدې تجربې ولیدلې. وړاندې تر دې چې خبرې وکړم زه یو څه وخت ته اړتیا لرم. خو زه هوښیار یم او په هر شي باندې پوهیږم. زه خبرو ته ښه غوږ نیسم او غواړم چې بېرته ښوونځي ته ولاړ شم. ټول هغه ملګري مې خوښیږي چې تر اوسه یې لرم.

## اغلې اینس

زه یو سرپرست یم او د ښه راغلاست په دې مرکز کې کار کوم. زه تر خپله وسه پورې هڅه کوم چې له ټولو هغو ماشومانو او ځوانانو سره مرسته وکړم چې د پناه غوښتونکې دي. زما پخلی خوښیږي او ډېر خوشحاله کېږم کله چې وینم هر څوک بوخت او فعالیت لري. ورزش موږ ټول په جسمي او دماغي لحاظ سالم ساتي.





## ښاغلی فرید

زه حقوقي سلاکار یم، کوم چې یو ډول وکالت دی. زه دلته له نورو ډېرو ښو روزل شوو همکارانو سره په ګډه کار کوم.
زه ټولو پناه غوښتونکو ته د قانوني موضوعاتو او د دوی د پناه غوښتنې د غوښتنلیکونو په اړه معلومات او ملاتړ ورکوم. زما خوښیږي چې رنګارنګ پیغاملرونکي ټي شرټونه واغوندم.

د زړه له کومې مننه له ټولو هغو ځوانو پناه غوښتونکو څخه چې دا کېسه يې له خپرېدو مخکې ولوستله او په ښکلې توګه يې د دې په بشپړولو کې مرسته وکړه.


هغوی د اصلي کرکټرونو د نومونو په ټاکلو کې هم مرسته وکړه.

مننه همداراز د مالتا او هالند له چارواکو څخه چې له تنکيو ځوانانو سره د بحثونو ملاتړ يې وکړ.


راخئ!


سلام ښاغلی فرید، مورږ غواړو د پناه غوښتنې پروسې په اړه نور معلومات ترلاسه کړو!
واى، ته ډېرې پوښتنې لرې! زه به تا ته یو عمومي لنډیز درکړم. د هغو جزئیاتو لپاره چې ستا له حالت سره ځانګړي وي، بیا راشه، زه به نور معلومات درکړم.
... او د شخصي پناه غوښتنې مصاحبې پر مهال څه پیښېږي...
... او کله چې ستا د قضیې په اړه تصمیم ونیول شو...


MUJYƧA
که ته خپل هېواد ته بېرته نشې تللی ځکه چې ته هلته خوندي نه یې، نو کولای شې د پناه غوښتنه وکړې.
په داسې حال کې چې هر څوک د پناه غوښتنې حق لري، خو هر څوک هم دا خوندیتوب نه شي تر لاسه کولای.
د خوندیتوب معنی څه ده؟
خوندیتوب یعنې دا چې ته کولای شې په هغه هېواد کې کوم چې تا په کې د پناه غوښتنه کړې ده هر څومره چې ورته اړتیا لرې هلته پاتې شې.
که ته بېرته له تللو څخه وېرېږې، نو ښایي له دې امله وي:
- ستا د پوستکي رنګ
- ستا دین، کلتور یا هغه دودونه چې ته یې عملي کوې
- ستا قومي یا ژبني هویت
- ستا یا ستا د کورنۍ سیاسي نظرونه
- هغه کس چې ورسره مینه لرې او غواړې ورسره ژوند وکړې
- هغه ډله چې ته پکې شامل یې او نورو ته د منلو وړ نه دي
دا چې تاسې خوندیتوب ترلاسه کوئ یا نه، دا په دې پورې اړه لري چې ته ولې باور لرې چې ستا خپل هېواد ستا لپاره خوندي نه دی. د بېلګې په توګه:


... برسېره پر دي، ته کولای شي
خونديتوب ترلاسه کړې که ستا په هېواد
کې جګړه وي يا که له تا سره په بېرته تللو
کې زور زياتی کېږي.
دا ځينې هغه حالتونه دي چې له امله يې خلک مجبوريږي خپل هېوادونه پرېږدي.
نو، که زه خوندي نه يم او
زما هېواد نشي کولای يا
نه غواړي چې زما ساتنه
وکړي، نو زه ګولای شم د
پناه غوښتنه ورکړم؟
بالکل!
په ځينو هېوادونو کې، د نجلۍاوسېدل خطرناک وي، ځکه نجونې
نشي کولای ازادانه حرکت وکړي، ښايي له ښوونځي منع شي يا
جبري ودونو ته اړ شي، په داسې حال کې چې...
... په نورو هېوادونو کې، خلک ممکن د روغتيايي حالت يا
معلوليت له امله له خطر سره مخ وي.


... امم... تا مخکې وویل
— هغه کس چې ستا
ورسره مینه ده...
... ته دا مطلب لرې چې کله
یو سړی بل سړي سره مینه
لري یا یوه ښځه بلې ښځې
سره مینه لري؟
سمه ده.
بالکل!
که ته نور معلومات
غواړې، له خپل
سرپرست سره خبرې
وکړه.
ASYLUM
... امم... دلته افسران څنګه
پوهیږي چې خلک له کومو ستونزو
سره مخ دي؟


مامورین به له تا ډېري پوښتنې وکړي، څو ستا په اړه تر ډېر معلومات ترلاسه کړي. خپله کېسه شریکه کړه.
همداراز، هر څوک چې تر 18 کلونو کم عمر لري او یوازې راځي، باید سمدستي افسرانو ته خبر ورکړي، ځکه ماشومان له لویانو څخه ډېر ملاتړ ته اړتیا لري.
ASYLUM
بیا به تا ته یو موقتي سرپرست وټاکل شي. د پناه غوښتنې له غوښتلو څخه په 3 اونیو کې دننه به تاسې ته یو دایمي سرپرست وټاکل شي تر څو تاسې سره مرسته وکړي.
هغه افسران چې له تا سره خبرې کوي، روزل شوي دي او هڅه به وکړي چې تا ته ارام درکړي.
هغوی هڅه کوي چې ستا غوښتنې، اړتیاوې او اندېښنې د مهمو تصمیمونو له نیولو مخکې په پام کې ونیسي.
همداشان هغوی ستاسې د هېواد په اړه مطالعه کوي، ترڅو ستا حالت ښه درک کړي.



دا کار د ټولو ما شومانو، ان هغو لپاره چې دلته کورنۍ لري، د هغوی د غوره ګټو د خوندي کولو لپاره ترسره کېږي.
... ته ښايي له دي ټولو تصميمونو څخه خوښ و نه اوسي.
که ته د ژبې له امله په اړیکه نیولو کې ستونزه لرې، نو کولای شې ژباړن وغواړې.
... وروسته څه پېښيږي؟
وروستی ټکی، د پناه غوښتلو ته د پناه غوښتنې د غوښتنلیک وړاندې کول هم ویل کېږي.
ASYLUM


ته به د اړوندو چارواکو له خوا ثبت شي، ستا انځور او د ګوتو نښې به واخیستل شي او ...
ASYLUM
... هغوی به ستا اسناد، نوم، د زیږون نېټه، د کورنۍ په اړه پوښتنې او نور معلومات وغواړي.
ثبت کېدل تا سې ته اجازه درکوي تر څو دلته پاتې شئ تر هغه چې ستاسې د پناه غوښتنې پر غوښتنلیک باندې یو تصمیم نیول کېږي.
تا سې دلته خوندي یا ست
ثبت کېدل څومره وخت نیسي؟
تاسې باید هر څه ژر او تر 10 ورځو کمه موده کې ثبت شئ.
که چېرې زیات شمېر خلک ټول په یو وار سره پناه غوښتنې ته غوښتنلیک وسپاري نو کېدای شي تر 2 اوونیو پورې وخت ونیسي.


ما ته ویل شوي چې باید خپل غوښتنلیک "ثبت کړم"—دا څه معنا لري؟
له تا به وپوښتل شي چې ولې دې خپل هېواد پرېښود او ولې بېرته نه شې تللی، د خپل سفر جزئیات او نور اړوند معلومات ورکړه.
له یوه هېواد تر بل هېواد پورې لږ توپیرونه شته. په ځینو هېوادونو کې، ثبت او د پناه غوښتنې وړاندې کول په یوه ناسته کې ترسره کېږي، خو په نورو کې دا جلا جلا ترسره کېږي.
که ته له چارواکو سره دوه ځله ووینې...
... هغوی به ستا معلومات د ثبتېدو له نېټې څخه د 21 ورځو دننه په کمپیوټري سیستم کې داخل کړي. که خلک ډېر راشي، نو ښایي دا بهیر اوږد شي.
... او هغه ماشومان چې له خپل مور او پلار سره راځي، ښایي د هغوی د عمر له مخې د خپل مور او پلار د پناه غوښتنې په غوښتنلیک کې شامل شي.


که پوښتنې لرئ نو کولای شئ هغه له خپل سرپرست څخه وپوښتئ. که چېرې تاسې له خپلې کورنۍ سره یاست او هغوی د ځینو مشخصو شیانو په اړه نازړه وي، نو بیا دمرستې لپاره له یوه وکیل څخه پوښتنه وکړئ.
د همدې ټول پروسیجر په اوږدو کې د هغوی مرسته وړیا ده.
ASYLUM
کله چې زما نوملیکنه وشوه، نو ما ته یو سند راکړل شو چې په کې لیکلي و زه یو غوښتونکی یم.
ما خپل یو انځور واخیست او هغه مې په خپل موبایل کې ثبت کړ...
هو. دا سند ښيي چې تاسې د پناه غوښتنه کړې ده. دا مهم دی. دا سند خوندي درسره وساتئ.
افرین!


ښاغلی فرید، زما نیکه دلته په اروپا کې ده. دا چې زه اوس یو غوښتونکی یم، نو ایا زه کولای شم له هغه سره د یو ځای کېدو لپاره سفر وکړم؟
لا تر اوسه مو نه دی کړی. هلته پاتې شه چېرې چې ثبت شوی یې. چارواکي به له تا او ستا له سرپرست سره یو ځای تصمیم ونیسي تر څو تا له هغه کس سره یوځای کړي او دا چې څرنګه دا کار وکړي.
وړاندې تر دې چې له یوه هېواد څخه بل هېواد ته د تلو لپاره داسې یو ستر تصمیم ونیسئ، نو له خپل سرپرست یا یوه وکیل سره خبرې وکړئ تر څو د دې کار په عواقبو پوه شئ.
...همداشان، په یوازې سر سفر کول کېدای شي له خطره ډک وي!
زه پوهېږم چې باید دلته پاتې شم.
په داسې حال کې چې د خپلې پناه غوښتنې مصاحبې ته په تمه وي، نو دا خلک چېرې ویده کېږي او چېرې خوراک کوي؟
چارواکي مکلف دي چې تا ته یو خوندي او مناسب ځای درکړي چې رېسپشن ورته ویل کېږي. هغوی به تا ته تشریح کړي چې خواړه او اړین توکي څنګه ترلاسه کړې.



په نورمال ډول، ماشومان له کورنیو سره د کورنۍ په استوګنه کې پاتې کېږي.
د استوګنې مرکز
هغه ماشومان چې یوازې دي ښايي له هغو ماشومانو سره ځای پر ځای شي چې ورته حالت ولري، او دا به د هغوی اړتیاوو ته په پام ترسره شي.
افسران به تاسې ته خبر درکړي چې چېرې کولای شئ سیمه ییزې ژبې زده کړئ
... ښوونځي ته ولاړ شئ، کار ومومئ یا د اړتیا په صورت کې ډاکتر ووینئ
په داسې حال کې چې خپلې مصاحبې ته په تمه یاست نو ځان بوخت وساتئ او له یوه وکیل یا سرپرست څخه وغواړئ چې مصاحبې ته په چمتووالي کې درسره مرسته وکړي.
که چېرې اندېښنه، خپګان یا د ډار احساس لرئ، نو هغه چا ته ووایاست چې پرې باور لرئ. افسران یوازې هغه وخت کولای شي تاسې سره مرسته وکړي چې پوه شي له څه شي اندېښمن یاست.
ASYLUM



تاسې، ستا سرپرست یا پالونکی به د مصاحبې لپاره یوه لیکلې بلنه ترلاسه کړي، چې پکې د نېټې، وخت او ځای یادونه شوې وي—دا بلنه به د برېښنالیک یا پوسټ له لارې تاسې ته در ورسېږي.
14h30
01/04
له ماشومانو سره به د یوه بالغ کس په شتون کې مصاحبه وشي چې د هغوی مسوولیت پر غاړه لري، لکه مور یا پلار یا سرپرست.
که چېرې په هغه ورځ زه ناروغ وم نو څه به کېږي؟
تاسي یا ستاسي سرپرست باید سمدلاسه چارواکو ته خبر ورکړي.
امم... د پناه غوښتنې د مصاحبې په ورځ څه پېښېږي؟
د مصاحبې پر مهال، هغه کس چې ورته «د قضیې افسر» ویل کېږي...
هغه به له تاسي څخه ستاسي د کورنۍ، په اصلي هېواد کې د ژوند، هلته د امنیتي وضعیت او دا چې ولې تاسي خپل هېواد پرېښود او ستاسي د سفر په اړه پوښتنې وکړي. هر هغه څه چې تاسي یې وایاست هغه به محرم وي، یعنې هغه به له نورو سره شریک نه شي.


امم... د دې ټولو کارونو په یاد ساتل یا یې په اړه فکر کول اسانه کار نه دی...
زه پوهیږم چې دا سخت کار دی. خو افسران ټول په دې برخه کې روزل شوي دي او هغوی به تاسې سره مرسته وکړي.
یوه کس را ته وویل چې دا کار داسې دی لکه ازموینه.
هڅه وکړه چې له خپل سرپرست یا وکیل سره د مصاحبې لپاره چمتو شې.
زه کولای شم. مصاحبه څومره وخت نیسي؟
ASYLUM
دا کېدای شي وخت ونیسي، په تېره بیا که چېرې یو ژباړونکی موجود وي. که چېرې تاسې ستړې یاست، نو کولای شئ د دمې غوښتنه وکړئ.
که کومې پوښتنې ته ځواب ور نه کړای شم نو څه به وشي؟
خپله هڅه وکړه. که ځینې جزئیات درنه هېر شي، نو ورته ووایه چې را نه هېر شوي. تر خپلې وسې پورې معلومات شریک کړه. د دقیقو نېټو پر ځای، ته کولای شې ووایې چې هغه د دوبي موسم و یا د کومې رخصتۍ شاوخوا وخت و.
له خپتې مه ورته غریږه.


په پای کې به افسر له تا سره ستا ځوابونه بیا وګوري. که داسې څه وي چې هغوی سم نه وي ثبت کړي، نو ترې وغواړه چې اصلاح یې کړي—ځکه وروسته بدلون راوستل ستونزمن وي.
ایا کولای شم چې د خپلې کېسې د ملاتړ لپاره له ځان سره لیکونه، د ښوونځي رپوټونه یا طبي رپوټونه او د ورځپاڼې مقالې راوړم؟
بالکل!
...د ملګرو او کورنۍ څرګندوني څنګه یا د اسنادو انځورونه لکه زما د زېږون تصدیق لیک؟
هو، تر هغه چې دا معلومات ستا د کېسې د تشریح او ستاسې د راوتلو د دلیل روښانه کولو لپاره اړین وي.
ملګري او کورنۍ کولای شي له ما سره د دې معلوماتو په پیدا کولو کې مرسته وکړي.
هو، خو هغوی نه باید خپل ځان په خطر کې واچوئ. که زیات وخت ته اړتیا لرې نو افسرانو ته ووایاست.
ښايي هغوی تصمیم ونیسي چې ستاسې مصاحبه له سره تنظیم کړي که چېرې دا معلومات له هغوی سره مرسته وکړي چې په اړه یې یو تصمیم ونیسي.
یوه ملګري مې را ته وویل چې چارواکي به د هغه د پناه غوښتنې غوښتنلیک و نه ګوري. دا ولې؟
چارواکي لومړی دا ارزوي چې ایا اړتیا شته چې د پناه غوښتنې غوښتنلیک وڅېړي یا نه.



هغوی ښايي دا کار ونه کړي که تا له وړاندې له بل هېواد څخه خونديتوب ترلا سه کړی وي، يا که ته له داسې هېواد څخه راغلی يې چې هغوی يې خوندي ګڼي.
ASYLUM
ښاغلی فريد، که يو څوک وغواړي ځواب ورکړي خو نشي کولای—کېدای شي هغه ويريدلی يي يا پوښتنې ډېرې شخصي وي؟
دا بيا جلا موضوع ده. خلک د ډېر بدو تجربو له امله تښتي. دا طبيعي ده چې څوک ونه غواړي په اړه يې خبرې وکړي.
خو بيا هم هڅه وکړه چې تر خپلې وسې پورې معلومات شريک کړې، که څه هم غمجنوونکي وي يا شرمووونکی احساس ولري. هېڅ داسې څه نشته چې په اړه يې وشرميږې. که ته د حافظې ستونزه لرې يا ډاډه نه يې چې څه بايد ووايې، نو هغوی ته ووايه.


هغه څه چې تاسې تجربه کړي دي، کېدای شي هغه مهم معلومات وي. افسران به هڅه وکړي چې تا ارام کړي. که هغوی ووینې چې ته ستونزه لرې، ښايي مصاحبه وځنډوي يا بل څوک راوغواړي چې تا سره مرسته وکړي.
هر څوک چې دلته کار کوي باید له تاسې سره په درناوي چلند وکړي. که هغوی دا کار ونه کړي، ته کولای شې رسمي شکايت وکړې—له یوه د باور وړ کس څخه مرسته وغواړه.
د یوه ملګري د پناه غوښتنې شخصي مصاحبه ودرول شوه او له هغه وغوښتل شول چې ډاکټر ته لاړ شي. ولې؟
امم... په جزئیاتو يې نه يم خبر...
ځينې وختونه، ښايي له یوه کس د طبي معاینې غوښتنه وشي، هغه هم که افسر فکر وکړي چې پايلې يې کېدای شي د پناه غوښتنې له غوښتنلیک سره ملاتړ کولای شي.


کېدای شي یو کس روغتیایي یا رواني ستونزه ولري چې مخکې نه وه ثبت شوي او درملنې ته اړتیا ولري. د پایلو له مخې به راتلونکي ګامونه ټاکل کېږي.
امم... زه ځنګه پوه شم چې ما ته پناه راکړل شوې که نه؟
افسران به وپوښتي چې ایا ته له معاینې سره موافق یې. د ماشوم په توګه، ستا مور او پلار یا سرپرست به پکې شامل وي.
مصاحبه چې پای ته ورسېږي، افسران به ټول معلومات وڅېړي او ستاسې د غوښتنلیک په اړه به تصمیم ونیسي. دا امکان لري چې د تصمیم په اړه تشریحي لیک ترلاسه کول وخت ونیسي.
پوه شوم. همدا وجه وه چې هغوی زما نوې د تلیفون شمېره او پته وغوښتله، ترڅو له ما سره اړیکه ونیسي.
پته
بریښنالیک
تلیفون
ASYLUM


هو! که چېرې تصميم مثبت وي، نو بيا خلک کولای شي دلته پاتې شي او د خونديتوب يوه فورمه به تر لاسه کړي.
دا به د کډوالۍ وضعيت وي، همداسې ده؟
هو! ...يا فرعي خونديتوب.
په دواړو حالاتو کې، ته د اوسېدو اجازه ليک ترلاسه کوې ترڅو دلته پاتې شې تر هغه وخته پورې چې خونديتوب ته اړتيا لرې. يو وکيل کولای شي جزئيات تاسې ته تشريح کړي.
که ته منفي تصميم ترلاسه کړې، نو بيا دلته پاتې کېدای نشې، ځکه دا پرېکړه شوې چې ستا لپاره خپل هېواد يا هغه هېواد ته بېرته تلل خوندي دي چې مخکې پکې اوسېدې.
استيناف
که ته موافق نه يې، نو کولای شې اپيل وکړې، چې معنا يې دا ده چې ستا قضيه بيا وکتل شي.


ايا اپيل کول پېچلې کار
دی؟
يو څه اندازه.
ته باید فورمې سمدستي ډکې کړې. مرسته وغواړه. په یاد ولره، اپیل یوازې
بیاکتنه ده، نه د خوندیتوب تضمین.
تاسي ټول اوس ډېر ستړي
ښکارئ، راځئ ننۍ غونډه
پای ته ورسوو.
یوه بله پوښتنه... ما اورېدلي چې
افسران د سرحدي او بېرته ستنولو
پرو سې په اړه خبرې کوي...


د بېرته ستنولو پروسه د
هغو کسانو لپاره ده چې باید
بېرته ولاړ شي، ځکه چې د
هغوی هېواد خوندي ګڼل
شوی.
ځيني خلک ښايي په خپله خوښه بېرته ستانه شي. د ملاتړ
تر لاسه کولو لپاره له افسرانو سره اړيکه ونيسئ.
د سرحدي پروسې معنا دا ده چې ستا د پناه غوښتنې
غوښتنليک هلته ارزول کېږي چې ته د هوا، ځمکې يا سمندر
له لارې ور رسېدلی يې.
ته ښايي اړ شې هلته پاتې شې تر هغه چې
ستا پر قضيه تصميم نيول کېږي او ته به
ازاد تګ راتګ نشې کولای.
هغه ماشومان چې له کورنۍ سره راځي،
ښايي د سرحدي پروسې برخه وګرځي،
چې دا بهير 3 تر 4 میا شتو پورې دوام
کوي.
هغه ماشومان چې يوازې راغلي وي،
هغوی به د سرحدي پروسې برخه نه
وي، خو بيا هم ځينې استثناوې شته.
د نورو معلوماتو لپاره له خپل
سرپرست سره مشوره وکړه.


وروستۍ پوښتنه... که یو ماشوم خپل عمر غلط وښيي، چې ځان کوچنی یا لوی ښکاره کړي، نو څه پېښېږي؟
تل باید افسرانو ته خپل اصلي عمر ووایاست. که هغوی شک ولري، ښايي د عمر ارزونه وغواړي.
مونږ به د غرمې وروسته له اغلې اینس سره د عمر ارزونې په اړه خبرې وکړو. دا مهمه ده چې تاسو پرې پوه شئ.
هو، راځئ چې ډوډۍ وخورو، زما ګېډه هم وږې شوې ده!
ASYLUM
ښه راغلاست! له غرمې وروسته به تر ونې لاندې مېز کې له ټولو سره وګورم.
مننه!

# مهم

## په دغه هېواد کې ...

هغه اداره چې زما د ثبت او د شخصي پناه غوښتنې د مصاحبې د تنظيم مسؤليت لري، نوم يې دی:
______________________________________________

زما د سرپرست نوم دی: ______________________________________
______________________________________________

زه کولای شم له يوه وکيل سره وړيا اړيکه ونيسم، څو د پناه غوښتنې د پروسې په اړه نور معلومات ترلاسه کړم او د خپلې مصاحبې لپاره چمتووالی ونيسم.

د دې لپاره، زه کولای شم اړيکه ونيسم له: ______________________________
______________________________________________

که زه د خپلې پناه غوښتنې د غوښتنليک له پرېکړې سره موافق نه وم، کولای شم له خپل سرپرست او وکيل سره د اپيل کولو له لارې مشوره وکړم.

د اپيل لپاره لاندې معلومات ګټور تماميږي: ______________________________
______________________________________________
______________________________________________

که دلته څوک، لکه افسران، حقوقي سلاکاران، ژباړونکي يا زما سرپرست، له ما سره بد چلند وکړي، زه کولای شم شکايت وکړم او اړيکه ونيسم له: ______________________________
______________________________________________

د بېړني حالت پر مهال، زه کولای شم له امبولانس سره په دغه شمېره اړيکه ونيسم ____________________
يا له پوليسو سره په دغه شمېره ______________________________

که زه وغواړم چې په خپله خوښه خپل هېواد ته بېرته ولاړ شم، زما سرپرست به له ما سره مرسته وکړي چې د کډوالو نړيوال سازمان (IOM) سره اړيکه ونيسم:
______________________________________________

د ملګرو ملتونو د کډوالو اداره (UNHCR) هم کولای شي له ما يا زما له کورنۍ سره د قانوني پوښتنو پر مهال ملاتړ وکړي. کولای شئ UNHCR سره له دې لارې اړيکه ونيسئ:
______________________________________________

نور مهم معلومات: ______________________________________
______________________________________________
______________________________________________
______________________________________________

# کوییز

**زه د پناه غوښتنې د پروسې په اړه خپل معلومات ګورم.**

✓ سم ځواب په نښه کړئ.

1. خلک د نړیوال خوندیتوب یا پناه غوښتنه کوي ځکه چې دوی وېرېږي چې که بېرته خپل هېواد ته ولاړ شي، دوی یا د دوی کورنۍ به خوندي نه وي.
   - ◯ الف. سم
   - ◯ ب. ناسم

2. حارواکي باید زما نوم د پناه غوښتنې له غوښتنې وروسته د 5 ځخه تر 8 ورځو دننه ثبت کړي. په استثنايي حالاتو کې به دا تر 2 اونیو پورې وخت ونیسي.
   - ◯ الف. سم
   - ◯ ب. ناسم

3. زه کولای شم له دې وروسته چې پناه وغواړم، هر هېواد ته سفر وکړم.
   - ◯ الف. سم
   - ◯ ب. ناسم

4. دا مهمه ده چې له هغو افسرانو سره همکاري وکړم چې زما د شخصي پناه غوښتنې مصاحبې پر مهال پوښتنې کوي. که زه څه نه یادوم، کولای شم هغوی ته دا ووایم.
   - ◯ الف. سم
   - ◯ ب. ناسم

5. ماشومان چې یوازې راځي، د سرحدي پروسې برخه نه ګرځي.
   - ◯ الف. سم
   - ◯ ب. ناسم

6. که زه د شخصي پناه غوښتنې مصاحبې په اړه پوښتنې ولرم، کولای شم له خپل سرپرست یا وکیل څخه پوښتنه وکړم. ذ هغوی ملاتړ وړیا دی.
   - ◯ الف. سم
   - ◯ ب. ناسم

7. افسران به له ما سره هغه معلومات تایید کړي چې دوی یې د شخصي پناه غوښتنې مصاحبې پر مهال راټولوي، څو زه هر ډول تېروتنه اصلاح کړم.
   - ◯ الف. سم
   - ◯ ب. ناسم

8. که زه د خپلې پناه غوښتنې شخصي مصاحبې ټاکل شوې نېټه کې حاضر نه شم، نو کومه ستونزه خو به نه وي.
   - ◯ الف. سم
   - ◯ ب. ناسم

# کوییز

9 دا ښه ده چې له افسرانو سره ټول اسناد شریک کړم چې زه یې لرم، حتی که دا یوازې د اسنادو عکسونه وي چې په موبایل کې مې دي.

- الف. سم
- ب. ناسم

---

10 له شخصي پناه غوښتنې مصاحبې وروسته، افسران به ټول معلومات وڅېړي او پرېکړه به وکړي چې زه خوندیتوب ته اړتیا لرم که نه

- الف. سم
- ب. ناسم

---

11 که زه د دوی له پرېکړې سره موافق نه وم، کولای شم له خپل سرپرست یا وکیل سره خبرې وکړم او د شوې پرېکړې پر ضد اپیل وکړم.

- الف. سم
- ب. ناسم

## د کوییز ځوابونه

پوښتنه 1: الف؛ پوښتنه 2: الف؛ پوښتنه 3: ب؛ پوښتنه 4: الف؛ پوښتنه 5: الف؛ پوښتنه 6: الف؛
پوښتنه 7: الف؛ پوښتنه 8: ب؛ پوښتنه 9: الف؛ پوښتنه 10: الف؛ پوښتنه 11: الف.

# یادښتونه

PASHTO

دا کتابچه یوازې د معلوماتي موخو لپاره دی. دا پخپله هیڅ ډول حقونه یا مکلفیتونه نه رامنځته کوي. د اروپايي ټولنې د پناه غوښتنې اداري (EUAA) د دې موادو اصلي برخه چمتو کړې ده، او د دې کتابچې بیا تولید او بدلون یوازې د EU غړو هیوادونو لپاره د EUAA له خوا اجازه لري. EUAA د EU غړو هیوادونو یا کوم بل مسؤل دریم اړخ له خوا په دې کتابچه کې د شاملو معلوماتو د دقت، محتوا، بشپړتیا، قانونیت یا باوری توب لپاره هیڅ مسوولیت یا تضمین نه منل کېږي. نه EUAA او نه هم د EUAA په استازیتوب کوم کس په دې کتابچه کې د شاملو معلوماتو د کارونې مسوولیت پر غاړه نه لري.

© پناه غوښتنې لپاره د اروپايي اتحادیې اداره، 2025

